د چاپ حقوق له شاعر سره خوندي دي

کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: ستورو ته ناست یم له سیتاره سره

شاعر: سعید زابلی

کمپوز: خپله شاعر

د پښتۍ طرحه او ډیزاین: ایمل مایار او وزیرمحمد کتوازی


د چاپ لګښت: محمد نبي تلاش

چاپ چارې: اسد دانش خپرندویه ټولنه

د چاپ کال: ۱۳۹۱

szabuli@yahoo.com

WWW.SAMSOOR.COM




Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترون

د شهید عبدالصمد روحاني په نوم چا چې خپله ځواني د ولس او هېواد لپاره په رښتیا ویلو کې قربان کړه!



(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ

هغو مشرانو ته چې پر خپل خدای، خاوره او ولس باندې باور لري

هغو اتلانو ته چې د خبرو پر ځای عمل ته ژمن دي

هغه ځوانان او پېغلې ته چې د هېواد د بیارغونې لپاره یې په ورغوي کې تنها کې ده

او دوو نازولو ملګرو غلام سخي نوریوال، محمد یار یار او ډاکټر احسان احسان الله درمل ته



(c) ketabton.com: The Digital Library

زابلی په خپلو شعرونو کې

سعید زابلی د پښتو ژبې د مخکښو ځوانو شاعرانو په قطار کې راځي، زابلی په خپلو شعرونو کې د خپلو ځانګړو تجربو انځورګري کوي، شعري ژبه یې خوږه او روانه ده، انځورونه یې د رڼو اوبو په څېر روان او رڼه دي، د تخیل ناوې یې د عاطفې په ګاڼه سینګار ده، د شعر لمن یې د غلو او مبالغې له ازغیو پاکه ده، متناسبه موسیقي لري، خو څرنګه چې په ورځني ژوند کې اقتصاد په پام کې نه نیسي نو همدا رنګه کله ناکله ترې په کلیماتو کې هم اسراف کېږي، د ادب په دغه ګلورینه خاوره ورته د لا زیاتو رنګونو په هیله یو.

شرر ساپی



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ریالیستیک او رومانیتک شاعر

د شعر د لیکلو لپاره د لمسون، احساس او اغېز اړتیا ده، ښه شاعر دري واړه په ښه توګه تورېي او د شعر یو ښکلي صنم ترې جوړوي چې هر څوک ورته پخپله سترګه او نظر ګوري. د همدې اړتیا له مخې سعید زابلی د خپلې ټولنې غمیزې، خوښي، دودونه، دخپل محبوب د سترګو ښکلا او نازونه او دارنګه د نړۍ د روانو بدلونونو په واسطه لمسول شوی، څو شعر ولیکي.

د احساس اړتیا زابلی چې د ویښ وجدان لرونکی دی نو له دې کبله د خپلې ټولنې غم، خوښي محسوسوي، د خپلې مینه ناکې ارواه په واسطه د خپل محبوب مینه، ناز او غم محسوسوي او بیا دغه احساس په شعر کې رانغاړي.

بلاخره دغه مرغلرې په هر چا په ډېر قوت اغېز ښندي، د هرکس د پاره بېله بېله سکالو وړاندي کوي، چاته د وطن مینه، چاته د جانان مینه چاته له تیارې او جهالت څخه کرکه انځوروي او هغه د همدې حقیقتونو د منلو د پاره مجبوروي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

زابلي صاحب په روان ادبي بهير کې يو ائينی ځوان شاعر دی، چې په تېرو څو مياشتو کې يې لسګونه شعرونه له پښتو انګليسي ژبې ته ژباړل شوي، چې د زابلی صاحب خيال، فکر او شعر ته يې نړيواله ژبه ورکړې ده.

زه ورته د کتاب د چاپ مبارکي وايم او د لانورو مرغلرو د پيليو توفيق ورته غواړم.

په درنښت

ډاکټر فيض ځلاند ، يريوان، ارمينيا



(c) ketabton.com: The Digital Library

زابلی سعید ، زه له ډېرې مودې راهیسې پېژنم، د شعر او شاعرۍ
اورمړی تارهم سره لرو.

څه موده له مخه مې څو نظمونه هم ولوستل، شاعري یې چې ما لوستې
راټوله ده، خبره سلا بلا نه شواړه وای خیال یې خپل دی. یو نظم یې دی
چې سرلیک یې( وعده )وو ظاهرا یې یوه مرغۍ پکې پاللې وه، خو د
الوتونکي په وزرونو پورې یې ډېر عاطفي پیغامونه غوټه و، ما خوند
ورنه اخیستی، څنګلوری او عمومي خیال یې تر پایه ښه پالل شوی،
غزلې یې هم ډېرې یو لاس دي، په سړه سینه روان وي، خدای دې
همداسې پوست موست لري.

ومان نیازی


شعر د زړه اواز دی، آن د ښوونځي له نهم ټولګي څخه د زابلي اشنا د
زړه اواز ته غوږ یم.

ستاسو په لاس کې ټولګه یې د زړه د اواز او دروني احساس ښکلې
هېنداره ده. چې په کراتو کراتو مې ترې د چاپ هیله کړې ده، مبارک شه
دا ارمان مې هم پوره شو !



(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالرحیم هلال( غزنی )



(c) ketabton.com: The Digital Library

تور توتان تر یار قربان:

ځواني له احساساتو ډکه دوره ده؛ سعید زابلي هم ځوان دی او کلام یې له احساساتو ډک دی.

خو زه غوره هغه خبره ګڼم چې د پښتو د اوسني نثر پاچا استاد سعدالدین شپون کړې ده، استاد وایي موږ که شعر لیکو یا کیسه پر خپلو احساساتو باید کنټرول ولرو. زابلي ډېره هڅه کړې چې پر خپلو احساساتو کابو وي، خو د ځوانۍ جوش بیا بل څه دی، له ده نه ډېره مستي غواړي. ډېر ځله یې بغاوت ته هڅوي خو هغه هم سپېڅلی بغاوت.

زابلی هم نظم لیکي، هم څلوریزې او هم نظمونه؛ خو زما یې هغه کلام خوښېږي چې نوې خبره یې په ښکلو لفظونو کې وړاندې کړې وي. د ده د شاعرۍ یو امتیاز دا دی چې تل خبره کوي او هغو شېبو او ناخوالو ته سندریز رنګ ورکوي چې ده پخپله تجربه کړې وي. زابلی له کلي کابل ته راغلی، خو دا چې دلته رنګونه نور دي او د کلي ښکلا په کې نشته خوند ترې نه شي اخستی، په کوم ښایست پسې چې راوتی دی هغه یې نه دی موندلی، خو ښېرا نه کوي:



(c) ketabton.com: The Digital Library

سعید واپس زابلي فطرت له څمه
کابله وران مه شې دوکه دې راکړه

دی ازاد شعر ته نظم وایي، خو زه ورسره نه یم؛ دغه شعرونه یې خورا خوندور دي:
ورځ شوه تېره
د مرغانو او سیندونو په سندرو
سپوږمۍ هم لیښې غړلې
په تیارو کې په لامبو ده
ستوري مینځي په چینو کې خپل مخونه
مګر زه کرخت کرخت یم لا تراوسه
لکه واوره د لو تېرې وبغل ته
ته رانغلې زه دې جز د فطرت نه کړم
په غزل کې ښه لاس لري، خپله خبره په ساده اندازنوروته انتقالولای شي، همدا یې کامیابي ده، خو که لږ خپل کلام ته انځوریز رنګ ورکړي؛ بې جوړې به وي. کله کله دا سې بیتونو سره هم مخ کېږو چې



(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدای شوای لږ پرې کار شوی وای او ښه لیکل شوی وای او داسې ډېر ساده باده نه وای:
په ښار کې اوس هم کلیوال دی سعید
کوي د خال یا د پیزوان خبرې

دا خبره ځکه کوم چې زابلی ډېر داسې بیتونه هم لري چې هم په کې خوند شته، هم رنګ شته او هم ښه اوډون لري:
که ته ګل نه یې، نو بیا وایه چې څه یې؟
چې ورېږمې ځولۍ ځولۍ درپسې درومي !
دلته ځولۍ ځولۍ ورېږمې شعر ته یو خاص خوند ور په برخه کړی دی او تر ډېره نوې خبره ښکاري، ښایي ما ته داسې وي.
دا کرښې د زابلي د ټولو شعرونو په اړه صدق نه کوي د ده شاعري خوندوره او ښکلې ده، خو ده راته همدا څو شعرونه راکړل او په منډه یې د یو څو تورو د لیکلو وویل. تور توتان تر یار قربان.
صدیق الله بدر
کابل



(c) ketabton.com: The Digital Library

## ... او مننه


زه چې په کوم ماحول کې را لوی شوی یم، ډېر څه و چې له ما یې د شعر ژبه غوښته، په ډېرو الفاظو پسې مې منډې وکړې، د ډېرو خیالونو، فکرونو او د عاطفې ډګرونه مې پسې کچ کړل، خو شعر لیکل هم بلا هنر غواړي، دې لاره کې بریالی قدم وهل لوی بخت غواړي، مګر خوشحاله په دې یم چې ځینو زړونه بیرته مثبت غبرګون راکړی، چې دې کار زه بیا بیا هڅولی یم په دې لاره کې د قلم څوکه ګړندۍ کړم، مخکې مې غزل لیکل خورا خوښېدل، خو کله چې د ازاد نظم په اهمیت پوی شوم، یا د نړیوال ازاد نظم مطالعه مې وکړه، دې باغچې ته مې هم سترګې ورښکاره کړې، یوه نیمه تجربه مې په کې وکړه، دا چې دا به څنګه تجربه وي، تاسو به یې ولولئ!

زه ډېر څه نه لرم خو له فیصل فاران، ومان نیازی، عبدالغفور لېوال، ومان نیازي، صدیق الله بدر، ډاکټر ځلاند، شرر ساپی او عبدالرحیم هلال څخه مننه کوم چې زما د شعرونو په اړه یې خپل نظرونه وړاندې کړي دي او د محمد یار یار، اسد دانش(ګل دادا)، ډاکټر احسان الله



(c) ketabton.com: The Digital Library

درمل، بشیر احمد فیضان دوی دې کور ودان وې چې زه یې د دې کتاب د چاپ لپاره هڅولی یم.
او د دې کتاب لګښت ملي ځوان محمد نبي تلاش په غاړه اخستی، دا ځوان افغان فرهنګ ته د خدمت په موخه د دولسو کتاب د چاپ ژمنه کړې چې تر نیمایي یې زیات چاپ کړي او دا شعري ټولګه یې هم په ورین تندي تر چاپه ورسوله زه له دغه ځوان څخه د مننې ترڅنګ ځان د ده د احسان پوروړی ګڼم، لوی څښتن ج دې د ده غوندې ځوانان ډېر لري، په پای کې له ټولو نه یو ځل بیا مننه کوم، کندوګان یې له غنمو ډک. په ژمي کې ښایسته پېتاوی او په دوبي کې یې د ګلاب سایوو ته غواړم.
سعید زابلی



(c) ketabton.com: The Digital Library


دا دعا ارمان خدایه
وکړې لږ باران خدایه

شوندې د ګلاب وچې
رحم د اسمان خدایه

امن د پښتون غواړو
ته یې مهربان خدایه


ستا کرم ته تږي یو
سوله د افغان خدایه

زړه سعید دا ستا په یاد
غواړمه روښان خدایه



(c) ketabton.com: The Digital Library

د چينې رڼې اوبه د ونو سيوري
د محراب ومخ ته لپې دعاګانې
زما او ستا د ژوندون ګډه فلسفه ده
نو بيا ولې سره وران يو
پر تندي مو دې راشنې د نفرت کرښې
دا کيداى شي چې دې لمر يواځې ستا شي؟
يا دې زه لمنه ډکه کړم له ستورو؟
راشه بېرته غېږه راکړه چې پخلا شو



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پر ما دې پېرزو نه دغه غمی دی
وایه کوم بختور وړی ستا زړګی دی

ستا و شوندو ته یې خوله کې اوبه راشي
دا راغلی له صحرا ساده سړی دی

اوس هغه زمانه نشته لېونیه
چا ویل چې یار له یاره سپیلنی دی

و پردو ته یې دي کښته سترګې زیړې
خو په کور د ننه څومره ستر زمری دی

نور د جنګ سندرې وایي حماسي دي
خو سعید ګوره د ښکلو لېونی دی



(c) ketabton.com: The Digital Library


زما ولس وطن گلاب، کم تر کشمیر نه لري
هرڅه لري، مگر بدبخته دی امیر نه لري

د دې وطن له دې حالاتو معلومیږي داسي
لکه چې دلته یو څوک هم زره ضمیر نه لري

ځینې دې بل زیارت ته یوسه اې ملنگه اشنا
ستا وخوبونو ته هیڅوک دلته تعبیر نه لري

په دې مالت کې داسې ښکلی چرې نه شې موندای
چې بلا زړونه به ضرور د چا اسیر نه لري

چې بې د ښکلو پر زړو چک لکه ستار لگاوه
اوس دې غزل سعیده هغه شان تاثیر نه لري



(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه ږلی پر ګلابونو د صحرا روانه
د دې وطن پر خلاف څومره ناروا روانه

خدایه په کومه ګنا موږ یو درته پړه راغلي
چې د زخمي لپو دعا مو بې مانا روانه

نن په محفل کې څه عجیبه راته ښکاره شوې
لاس مې در وړاندې په دې شک کړو چې مینا روانه

ستا او سپوږمۍ ترمنځ ودې راز ته حیران پاتې شوم
ته وې ویده، مګر ترمینځ مو وه رڼا روانه

سعیده زما له دغو خلکو شي په دغه ګیله
دوی چرته لاړو او پر کومه ده دنیا روانه



(c) ketabton.com: The Digital Library


چې څوک حق غواړي، له دې دوو به کړې يو کار ومخ ته
يا به زړګی خوري، يا به نېغ ورځي د دار ومخ ته

څنګه په منده دې د خدای مخ ته خبرې وکړې
زما خو ژبه تلولی شي د خپل يار ومخ ته

چې پر وطن راتلې لوخړې زموږ دغه وس و
په لپو اوښکې مو شيندلې د غبار ومخ ته

خدايه په دې ګناګار، نور څومره احسان به کوې
ستورو، جانان دی غوږ نېولی، زما سيتار ومخ ته

سعيده ګل سره روغبت کې دغه هم ومنه
چې ستا د ګوتو هرکلی به کوي خار ومخ ته



(c) ketabton.com: The Digital Library


حسن به څه محدود کړې ښکلې تر نقابه پورې
چا دې ورمې ایسارې کړې تر ګلابه پورې

وطن خو کار غواړي ولسه، ستا د وخت مشران
مانې یې دنګې دي، د واک تش تر خطابه پورې

لکه دعا ښه تر یقینه به مې څنډ کولو
ما به دې شونډې ښکلولې تر ثوابه پورې

په دغه تمه ګوندي لپې درنه ډکې کړمه
ما رسولی ځان تر هره یوه سرابه پورې

سعید ساده په عقیده بانډې نور نه پوهیږي
یوازې سر یې دی ساتلی تر محرابه پورې



(c) ketabton.com: The Digital Library

بې وږمو پېغله د حجاب ښکارېږي
ګلاب اینه کې هم ګلاب ښکارېږي

سادګي دا ده چې خرڅ شوی مشر
مور ته قبله، مور ته محراب ښکارېږي

اخلي رشوت، ته وا ثواب یې په کې
خو، نا روا ورته شراب ښکارېږي

د یار په شوندو د رقیب ستاینه
دا راته هم د خدای عذاب ښکارېږي

سعیده سترګې چې خیرنې نه وي
د ښکلي مخ د خدای کتاب ښکارېږي



(c) ketabton.com: The Digital Library

د زمانې د سپېره جبر، بلا نه ده مړه
موږ يې تمام کړو، خو د وخت اژدها نه ده مړه

ښايسته زلمي، ښايسته پېغلوټې د ګلونو په څېر
شول په کې ښخ لکه ګلونه، صحرا نه ده مړه

لا يې هېر نه يم، په خوبونو کې دعا يې وينم
د مړې مورکۍ مې لا په ما هم اروا نه ده مړه

غواړي سعيده زما وطن کړي د مرګونو تابلو
لا جادوګره دنياګۍ په ګنا نه ده مړه



(c) ketabton.com: The Digital Library

دا سې ولس په څه ژوندی وي چې ګوښې ته ناست وي
په ګل وطن چې د لمبو وننداري ته ناست وي

حيران په دې يم چې په زړه کې به يې څه ورګرځي
ښکلی چې ګوري، خپلې سترګې و ايينې ته ناست وي

دا مساوات دی چې دې مشر وي شرابو کې غرق
غريب ولس دی وږی تږی، دروازې ته ناست وي

دا ستا خيالونه ښاپيرو غوندې را ورسيږي
سعيد چې شعر ليکي، تياره کې و ډېوې ته ناست وي



(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه د ښکلې مخ، محدود زه تر نقابه ښه يم
دې زمانه کې پټ د خلګو له حسابه ښه يم

ګوندې کوڅو کې څوک د ژوند له رازه وپوهوم
جومات دې ستا وي زه محروم له دې ثوابه ښه يم



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ننګ ناموس چې چا لوټمار کړی دی
موږ په هغو خلکو اعتبار کړی دی

خدایه دا ستا په دومره لوی جهان کې
تا پنجابی پر موږ بادار کړی دی

قام کې خو ټوله برابر غوندي وي
موږ کې، نواب، بل دې سردار کړی دی

رقیبه وایه د خدای په نامه
تا نو بیا کوم د سړي کار کړی دی

د فطرت خلک په کې نه شي موندای
سعید نفرت ځکه له ښار کړی دی



(c) ketabton.com: The Digital Library


را باندې اوري يو ارمان جانانه
دا ستا له سترګو په ايمان جانانه

ته مې په خوا کې يې عجيبه دا ده
خو زه بيا هم يمه پرېشان جانانه

تعريف د ژوند د فلسفې که غواړې
ودان په مينه دا جهان جانانه

د غزل راز چې له هرڅه را اخلم
ته په هرڅه کې يې خندان جانانه

بې تا سجدې سعيد د زړه په زور کړم
زما شيرين افغانستان جانانه



(c) ketabton.com: The Digital Library


ستوري شمېرمه يو څه شمار په کار دی
هغه راځي لږ انتظار په کار دی

سختو حالاتو کې چې قام رابچ کړي
مور ته يو مشر لږ هوښيار په کار دی

چې د رقيب په خوله خبره کوې
يو څه خو تا له هم اختيار په کار دی

حالات غمجن زاهده ستا خوښه ده
يا مى روا کړه يا سيتار په کار دی

سعيده هر څو که وعده وکوي
په جانان کله اعتبار په کار دی



(c) ketabton.com: The Digital Library


چې مې دې خوږ زړه ته دوا شي په کې
ګوندي يو يار خو به پيدا شي په کې

د دغه ښار دي عجيبه خويونه
د غره سړی ولې تالا شي په کې

ښکلي به چرته هم بې ياره نه وي
زموږ خوبونه که رښتيا شي په کې

چې دا ستا ياد ورته را ورسيږي
زړه مې تياره وي خو رڼا شي په کې

د يار و مخ ته خو سعيده سړی
سمه خبري کړي خطا شي په کې



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زه مين شومه او تا مې دلبري کړې ده
له هغې وروسته مو څه ښکلې زندګي کړې ده

نه در کتی شمه او نه مې درنه سترګې اوړي
لږ خو مې پوی کړه، دا دې څه جادوګري کړې ده

شبنم خو ښه دی د ګلاب پر پاڼه ورغړېده
ما خو ټول عمر پر اغزيو زندګي کړې ده

په ډک محفل کې يې د يار په ليدو اوښکې راغلې
په هغه ورځ خو سعيد ډېره سادګي کړې ده



(c) ketabton.com: The Digital Library


چې پېغله وي د بنګړو شرنګ نه لري
لکه غزله چې اهنګ نه لري

بیا هم دي ښکلې کلیوالې پېغلې
ساده پاده د شونډو رنګ نه لري

زما وطن په یو سپېره بیدیا کې
داسې زیارت دی چې ملنګ نه لري

دا به نو څنګه د چا زړه تېر شي
چې پښتنه خاوره دې ننګ نه لري

کتل به ښکلو ته ګنا لري خو
سعید صفا د زړګي زنګ نه لري



(c) ketabton.com: The Digital Library


کینه یې نه زده سپین زړګی د سعید
د کلیوال مالت زلمی د سعید

د زړه خبره چې ساتلی نه شي
منم چې دغه یو کمی د سعید

خولګي چې واخلي او بیا مندې وهي
شرم یې واخلي سادګی د سعید

د لونګین وږمې په ښار کې غواړي
څه عجیبه غوندې سړی د سعید

بلا کلونه یې په ښار واړول
خو په خوی هغسې زابلی د سعید



(c) ketabton.com: The Digital Library


کوډې که دې نه وای په خبرو کې
خولې ته به مې نه راتلې سندرو کې

ستا ولو پتهې ته رسېدی نه شي
هرڅو که ښکلا وي ببر سرو کې

ښکلی مې توپان غوندي پر زړه راغی
وړي مې د موسکا په سرو وزرو کې

هلته به نو قام ته څه خدمت وشي
واک چې وي په لاس د لنډغرو کې

ستا سعید د کلي په خوی لوی بویه
ښکاري چې ساده غوندي ملګرو کې




(c) ketabton.com: The Digital Library

که غوړېدلي ګل ته ورته نه يې
يې خو سپوږمۍ که سوې لمر ته نه يې

دا دې کمال دی زړه په سترګو اخلې
ښکلې منم جادوګر ته نه يې

عجبه دا ده چې په خوب کې راشې
له خوښۍ وېښ شمه، مګر ته نه يې

شهيده دلته دې شو دومره مقام
لا رسېدلی و کوثر ته نه يې



(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـــعیده نـــــور خـــــو درنـــــه شـــــېخ جـــــوړ شـــــوی
هســـــې ختلـــــی و ممبـــــر تـــــه نـــــه یـــــې



(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشر مخ ته کشر پاخي خبر سپکه کوي
عجبه وخت شو ورور له وروره څخه کرکه کوي

له تا را وروسته ستا بچو ورته تندی ټیټ کړی
مغلان دلته پاچاهي خوشحال خټکه کوي


له پښتنو ځکه اوس ډیلی او اصفهان هېر شوی
جګړه په کور کې یې پر کونډه یا پر ځمکه کوي

نیکه مو وایي په واده کې دریا مه ټنګوې
دا یې ګومان وي خدای پر کور د غضب ټکه کوي

دا مشران به نو سعیده څنګه جوړ کړي وطن
هره خبر چې له درواغو څخه ډکه کوي



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې غزل کاږم خبرې هم په سُر کې لرم
ډېره موده کېږي يو ښکلی تصور کې لرم

د يار په هيله د رقيب د زړه ساتنه کوم
خدايه دا يو لاس پر ګلاب بل په تنور کې لرم

ده ته کينه ورځي عجيبه ده زما پر خوښي
دغه يوه خامي بې رنګه په تربور کې لرم

شېخ پر ممبر ويل، بې مينې ژوند تيارې ته ورته
شکر يوه حصه خو زه هم په دې نور کې لرم



(c) ketabton.com: The Digital Library

سعيده ويره لرم وخت يې ځوانيمرګه نه کړي
ځوانه نغمه لکه ګلاب د زړه تنبور کې لرم



(c) ketabton.com: The Digital Library

بازار تيزي ده، طبيعت په کې ناکام ښکاريږي
دا چې ګلونه د رنګونو په کې خام ښکاريږي

لکه شراب مينه مو دا سې ګناګاره ګڼي
شيخ ملامت نه دی ستا شونډې ورته جام ښکاريږي

ساده ملګرو پام چې چرته په کې دو را نه شئ
دا هر ګودر راته د ښکلو پېغلو دام ښکاريږي

ښايي په دې کلي ناترسو هم بمبار کړی وي
چې د پايزېبو او بنګړيو شور ارام ښکاريږي



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د چا مخ ته ګوته نیسي او خاشه لټوي
سعید په دې مالت کې نور راته بد نام ښکاریږي




(c) ketabton.com: The Digital Library

بلا مودې يې په اثر کې اوسم
د ښکلو سترګو په منتر کې اوسم

دلته هم خدای ج هلته هم خدای ج يادوم
شېخه مسجد که په ګودر کې اوسم


بخته له دېنه به نور څه راکوې
د يار د سرو شونډو په سر کې اوسم

پښتون ملت يم بېلېدلی نه شم
که په میوند که په خیبر کې اوسم



(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په دعا يمه ډاډه مور جانې
سعيد که هرڅو مره خطر کې اوسم



(c) ketabton.com: The Digital Library

د غوټۍ شونډو او شین خال دې د سپرلي اندازه
د ښکلي حسن به دې څوک ولګوي اندازه

چې ولس مخکې وي روان او دی له شا ورپسې
د قومي مشر وي همدغه د سړي اندازه

د بل په غاړه چې چاره ږدي یا یې ولې کله
تا لګولې ده د خپل خواږه بچي اندازه؟

اوس چې چارګل په پزه نږدي، زمانه شوه، بله
چا له به څه ښکاري له دښه پښتني اندازه



(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنګ ترخو ترخو حالاتو کې چې مينه کوي
له ځينو خلګو مې سعيده د زمري اندازه



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې زه اوس د سرېتوب پاخه درشل ته شومه
یو څه وتاته، څه وکار، یو څه غزل ته شومه

چې شاعري مې د وږمو په څېر تر لرې رسي
منته خدایه طبیعت کې خو لږ ګل ته شومه

حسن منمه خو نغمې د سپرلي هم ومنه
که ستا څهره شوه له ګلابه زه بلبل ته شومه

را باندې تېرې کړې قسمت بلا مودې په تمه
عجبه دا ده نه اوربل او نه څنګل ته شومه



(c) ketabton.com: The Digital Library

سعيده روغ يار مې کې وبايله قسمت ته ګوره

دا څه بلا وشوه، د کومې بلا پل ته شومه




(c) ketabton.com: The Digital Library

تقدیر دي جار، خیر به دي څه وخت له ازله راشي
زموږ پر خاوره زموږ اختیار به خدایه کله راشي

بیا یې منو چې اوس پاچا زموږه خپل پښتون دی
پښتو فرمان چې کندهار ته له کابله راشي

چې مو ګلونه د باردو تور لوګي وهلي
نغمې به څه واورو، بیا خدایزده که بلبله راشي


ښکلې بخښنه چې مې ستا شونډو ته زړه سولیږي
دغه شیطان مې زړه ته ستا له سره چارګله راشي



(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښــــار کوڅـــو کـــې ښــــکلي يـــو بـــل نـــه تپـــوس کـــوي دا
لــــه مــــودو ورک ســــعيد بــــه څــــه وخــــت لــــه زابلــــه راشــــي

خدايه ياد مې دي تراوسه
زما په ذهن کې تصوير دي
سپين ګلونه د نرګيس و
هاغه وخت مې ښه پر زړه دی
که به هر څومره تيارې وې د ژوند لارې
خو زما مخ ته رڼا به وې دالارې
خدايه ! زه دې وايه څومره ګناګار يم
چې دې واخستل زما له سره دواړه
د مورکۍ خواږه لاسونه



(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه داده پر هر چا باندې خواږه غورځوي
ښایست بلا کوي ښایست اثر پر زړه غورځوي

ستا په لیدو چې مې له سترګو څخه اوښکې راشي
دا کلیوالې د ښادۍ مخ ته اوبه غورځوي

ستا کلیوال په ښار کې هم یې پر زړګي ساتلې
ها ستا د سمال یې دی ساتلی، هغه نه غورځوي

د جبر دې سوال ته تراوسه بې ځوابه یمه
چې له نظره مې نظر ښکلی په څه غورځوي



(c) ketabton.com: The Digital Library

نـــوره بـــه شـــپه ســـعيد د چـــا پـــه يـــاد کـــې نـــه رڼـــوي
دغـــه يادونـــه نـــور لـــه زړه څخـــه پاخـــه غورځـــوي



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پښتون مشر د خوشحال مطالعه نه لري
ناولی مخ ګرځي په لاسو کې اینه نه لري

ښکلو ته ګورم خو نظر مې بې مانا پاتې شي
د عشق رنګونه ښايي دغه زمانه نه لري

ولې له لوړې مرو ، بې سوچه، بې ضمير ولسه
زموږ وطن نو وايئ کومه خزانه نه لري؟

ښکلو ته ګوره خو لږ فام کوه تکفير دي نه کړي
دا د ريا زاهدان دومره حوصله نه لري



(c) ketabton.com: The Digital Library

له شعر يې خوند اخله يوې ښکلې ويل بلې ته
کنې سعيد غريب چنداني قواره نه لري



(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو ته گل موږ ته بد رنگ دور دی
خوشحاله اوس هم د اورنگ دور دی

په خپله خاوره چې اختیار نه لرو
پښتنو والله چې بې ننگ دور دی

په خپل وطن کې چې له لوږې نه مري
د پښتانه غریب ملنگ دور دی

سپین په پوډرو فطرتي خو نه دي
په خدای چې اوس د غنمرنگ دور دی

سعیده ژوند کې به دا واورم کنه
د یار، سیتار او نی و چنگ دور دی



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


که د سره لمر که د ګلاب په ګل سایه روان دی
خو هر سړی د خپل قسمت په اندازه روان دی

ځوان به په څنګ کې یا کتاب او یا رباب ګرځاوه
زموږه ځوان ګورئ په څنګ کې توپنچه روان دی

هلته یو ځوان عجیب ژړل د یو جنۍ په واده
تا به ویل چې د یو چا په جنازه روان دی

بیا به د کوم ناورین خبر راوړي محله پورې
مشر بهرته بیا په کومه اراده روان دی

سعید چې کلي کې په کوم ډول شډل ګرځېږي
حیران یم ښار کې هم هغه غوندې ساده روان دی



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


رياضت د حسن ښکلې زه بلا ګردان کومه
راز د ښکلا دي کنې ستا به څه احسان کومه

نادره دا وه، نن دې څه ډول خواره وکتل
درنه مننه ګل جانانه يو جهان کومه

چې پښتانه د غلامانو غلامۍ ته بيا يي
څه احترام به زه د دې اورنګ زمان کومه

اوس خو د ستور دی ځان په سل رنګه دا خلک لري
پر چا به څه شک د کافر پر چا به څه د مسلمان کومه

د ښار ملګري مې په دې ګنې ساده سعيده
زه چې خبرې د چارګل لا د پېزوان کومه



(c) ketabton.com: The Digital Library


دا ستا د حسن له کتاب سره خواله کومه
ستورو ته ناست یم له رباب سره خواله کومه

ښکلي انځور یې ستا د شونډو په څهره کې وینم
ساده خو نه یم چې ګلاب سره خواله کومه

هغه مې سوځي خو په تکنده غرمه کې لا هم
لکه لمر مخی له افتاب سره خواله کومه

ته رانه لرې دا ستا غم و چاته وژړوم
زه د خپل سوي زړه کباب سره خواله کومه

د مینې زور شېبه سعید چې رندانه ګرځمه
داسې هم نه ده چې شراب سره خواله کومه



(c) ketabton.com: The Digital Library

ورارې به خاورې و خپل رنګ ته په جذبه كې ګوري
اوس به له ناوې سره څوك په ايېنه كې ګوري

شښخه يواځې هلكان هم ملامته نه دي
شته جنكۍ چې پټې پټې دروازه كې ګوري

پښتون ولس د مشرانو كردار داسي كړلو
چې هر يو څوك يې جنګ فتنه اوس په شمله كې ګوري

يارو، ستار سره چې اوسي بس هغه بختور
له دېنه څه سكون به نور په زمانه كې ګوري


اوبه د كلي كړي سعيده د شرابو سيالي
د ورځې پېغلې د شپې ستوري په چينه كې ګوري



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په رښتیا و جرئت کوو موږ
دغه ژوندون په کوم قیمت کوو موږ

سعیده دې ته وایي ټینګ اعتقاد
د مینې ټوله شپه ریاضت کوو موږ




(c) ketabton.com: The Digital Library

په شپه کې خوند کوي ولاچې د پروين ايښې
زما د خړې خولۍ، ستا دلونګين ايښې

ځومره اثر کوي جنګونه پر ماحول د مينې
د ښکلو وچې شونډې، تتې د جبين ايښې

په خپله وطن کې راته سمه چپه لار نه ښکاري
سترګې مو سوځي راته مخ دي، د ګورګين ايښې

سعيده دومره شوې مجهولي اوس ځهرې د خلګو
سمې په سترګو ورته ږده د کتبين ايښې



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلي بلا کوي، سړی چې وي پریشان، تازه کړي
زاهده راشه په خبرو دې ایمان تازه کړي

چې کله وموسي په سروشونډو او مخ واړه وي
ټکور شي پاتې او زخمونه مې جانان تازه کړي




(c) ketabton.com: The Digital Library

ټوپک چاړه او یاد بم کېسه ده
زموږ د ژوند کېسه د غم کېسه ده

زما خاطره بس له هغې جنۍ نه
د ګل پر پاڼه د شبنم کېسه ده

داسي اتوم چې کړي نړۍ پرې غرقه
دغه د اوس بني ادم کېسه ده


په نه خبره سره نښې ووهي
د ګاونډیو د لړم کېسه ده



(c) ketabton.com: The Digital Library

وي به خپه له يو او بله ضرور

دا د سعيد او د صنم کېسه ده



(c) ketabton.com: The Digital Library


په خپله خاوره نا کراره يو او تره اوسو
دوخت مشرانو کې موږ بيا هم بې رهبره اوسو

د انقلاب د فلسفې نتيجه دا وخته
له نوره لرې په تيارو کې يو بې لمره اوسو

خدايه په دې خاوره به داسې رحم کله راځي
چې امن راشي او موږ لرې له خطره اوسو

د مشرانو د پوهې کچه مو دغسې شوه
چې اوس په جنګ او په چاودنو کې اکثره اوسو


سعيده څوک به مو د ژوند سيکې را وځلوي
د وخت ګرځونو کې چې پټې له زرګره اوسو



(c) ketabton.com: The Digital Library

شېخه ! چې مینه کړې ترځان محدوده
هغه نو ته وایه په څه سړی دی ؟

لا د چارګل لا د پیزوان خبرې
دا سعید هم یو عجیبه سړی دی



(c) ketabton.com: The Digital Library

کرم ریاضت یې بلا زه له ډېره وخته
یو تصویر مې دی پرزړه له ډېره وخته

په خیالو کې مې حسینې جادوګرې
راروانه یې بس ته له ډېره وخته

ستا د مینې د سرور له برکته
دي راګډ په ژوند خوارېه له ډېره وخته

سوال د شوندو به په کومه خوله کومه
ورته زه یم زړه نا زړه له ډېره وخته



(c) ketabton.com: The Digital Library


ښکلو ته میل د زړګي لرمه
شېخه حسینه کمزوري لرمه

په سادګی زما خطا چې نه شي
په زړه کې لویه پاچاهي لرمه

د غم حالاتو کې ملګري د ژوند
مننه خدایه شاعري لرمه

د بل په درد مې زړه کې څړیکه راشي
شکر دا خوی خو د سړي لرمه

هسي خو ډېر ملګري ګورته لاړو
ارمان سعید د روحاني* لرمه



(c) ketabton.com: The Digital Library

## شهید عبدالصمد روحاني چې یو خوږ کلیوال اشنا و

جنتي خوب ویني تک سپین لکه ثواب ویده دی
نظر مې ستا د سرکو شونډو پر ګلاب ویده دی

وخت د لېوه غوندي، په نیمه شپه ورګډ په کاله
ګوره پښتون ته، څنګه غرق خانه خراب ویده دی

د ژوند پر دښته مې قسمته چرته ونه لیده
زما ارمان د زمانې پر کوم سراب ویده دی

په دې مالت کې مې ونه لیدله نښه د ژوند
دلته رباب، دلته ګودر، دلته محراب ویده دی



(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه سعید ته نن عجیبه فلسفه وړاندې کړه
وې، ستا په شعر کې څه مرموزه اضطراب ویده دی



(c) ketabton.com: The Digital Library

خونه د پښتون چې په کې لویه خدایه ړنګه ده
دا دنیا دي اور و اخلي او دا دنیا بدرنګه ده

ولې وینې، وینې کندهار او پېښور زموږ
ولې مو د جبر زمانې ته ژبه ګونګه ده

څو به انقلاب وي او ترڅو به ورور وژنه وي
دا جنتي سیمه او تبا له جنګه ده

پېغلې د عربو او پنجاب په خولو پایي زموږ
دلته پښتنه پېغله ساده ګرځي ملنګه ده

ستا د میو زور ښکلې، سعید چې راندانه ګرځم
چاوې چې مستې مې یا له میو یا له بنګه ده



(c) ketabton.com: The Digital Library

اینه د حسن چې دې پاکه له غباره نه ده
زما د قسمت په دایره کې لا ایساره نه ده

شېخه د ښکلې په ایمان کې دې باور نه راځي
نور یې د مخ ګوره، ستا غونډې ګناګاره نه ده

دلته دروغ دي چې سپرلی وي بدرګه په ګلو
مور ته جګړه کله راغلې بې بهار نه ده

ښکلی سعیده د نرګس غونډي وځان ته مخ دی
هغه خبر ستا د زړګي له یو پرهاره نه ده




(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلاب که هر څو د ښایست ګڼې جلوې کولې
ستا د ښایست یې څه ناکامه تجربې کولې

نه یې له ښکلو لاس تاوکړی نه مینا پر شونډو
هغه غریب نو بیا په څه خبر توبې کولې

ستا د ښکلا و دې ګلاب خوی ته حیرت وړی یم
په خاموشۍ کې یې بلا بلا کېسې کولې



(c) ketabton.com: The Digital Library

وينې تويږي د زخمونو په هر پل کې
راته شنه دي تيند کونه په مزل کې

ته وا زما د زړه زخمونه په کې شنه دي
زه چې ګورمه ګلونه ستا اوربل کې

در قربان شم کليوالې نازولې
مخ دې ښکلى د خالونو په شنه ځل کې

موږ موسکي و له مستيه ګډېدو لو
شپون ژړل خداى يې موندلى و په نل کې



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ستا نظر ته مې څهره پرته وي
لکه ګلاب ته چې اینه پرته وي

شېخه په کوم معیار کې دا را ولې
مخ ته مې جام څنګ ته سجده پرته وي

خوب مې لیده ښکلې په ښي ورغوي
زما ملغلره تکه شنه پرته وي

ترڅو به زموږ د ژوند ځولۍ کې بخته
له درده ډکه زمانه پرته وي

سعیده بیا به مې په اوښکو لمانځي
چې زما وسرته کتېبه پرته وي



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ساتي مو په جنګ کې بې وجدانه زمانه ده
پښتون غريب ته ډکه له تاوانه زمانه ده

دې وخت که رسولي د نړۍ خلک ګلاب ته
قسمت کې زموږ ولې بې ارمانه زمانه ده

زما او د رقيب ترميان دي جوړ د کرکې ثلي
له تاښکلې راتاوه ثه جانانه زمانه ده

په دې بارودي جنګ کې يه اغلې پښتنې*
و حسن ته دې خدايږو چې حيرانه زمانه ده

سعيده د ملا په کتاب هم درسره ګورم
په حق د پښتنو کې بې ايمانه زمانه ده



(c) ketabton.com: The Digital Library

## *شربت ګله یا د ختیځ مونیلیزا



(c) ketabton.com: The Digital Library


د دې مالت فضا چې تته ده هیڅ شور نه لري
دلته دي زړونه او به شوي، زړونه زور نه لري

زمور په مالت کې خو ځوانان داسې بې پرسه وژني
ته به وا پلار نه لري، مور نه لري، خور نه لري

په خدای ملګرو کله کله راته شک پیدا شي
وایم پښتون داسې یتیم دی چې هیڅ کور نه لري

داسې هم نه ده چې شېخان یو تربنه بد مو راځي حالات جنګي دي مزه
ځکه ټنک ټکور نه لري

چې بې ساره زړونه راګرم کړو په مستو بیتو
اوس دي غزل سعیده هاغه شانته اور نه لري




(c) ketabton.com: The Digital Library

وینـي وینـي جنـګ ماحول
ځنګه شو بدرنګ ماحول

وخت و چې فتنې نه وې
ښکلی و ، لونګ ماحول

کاش چې مینه ، مینه شي
ګلو باندې رنګ ماحول

نه چې وي سعید هغه
ما باندې وي تنګ ماحول



(c) ketabton.com: The Digital Library

بلا تاریخ یې په غیرت لیکلی
د زمانې د زړه جرس دی پښتون

ملکو هلتې * احترام وکوئ
په دنیا کړی ثه هوس دی پښتون

د خدای په لاره برابر روان دی
په دې سعیده مقدس دی پښتون



(c) ketabton.com: The Digital Library


نه خان ملا او نه سردار معلوم دی
دلته د کوم سړي کردار معلوم دی

موږ ته سپرلي تازه جنګونه راوړي
په دې توپیر راته بهار معلوم دی

بچي بې خپله جوړوي، ورانوي
موږ ته قسمت اوس د دې ښار معلوم دی

چې قیامتونه په زړګي راولي
د خال او شونډو خو خپل کار معلوم دی

په بنګ، شرابو باندې نه ماتیږي
سعیده ماته خپل خمار معلوم دی




(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت دی د جبر او غمونو تابلو
هره څهره ده د ویرونو تابلو

سپرلیه اوس مو ده له یاده وتې
ستا د ښایست او د ګلونو تابلو

د رنګ ښېښه یې په باردو توره
زما د وطن د شنو سیندونو تابلو

د جنګ حالاتو کې به څه مزه وي
د کلي، غر او ګودرونو تابلو



(c) ketabton.com: The Digital Library

ورورولي، سوله او د ښکلو مينه

سعيده زما ده د شعرونو تابلو



(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس چې خاموشه یمه شور نه لرم
خدایه تیاره ده کور کې مور نه لرم

د مور دعا به وه لښکر راسره
دښمنه پړ یمه نور زور نه لرم

د کلي هر دیوال ته سا شړمه
بې موره ثه مزه کړي کور نه لرم

د ژوند له خونده به مې ثه وپوښتئ
ساړه نغري ته ناست یم اور نه لرم

سعیده زه شوم د پښتو په شانې
ثوک به دعا راکړي غمخور نه لرم



(c) ketabton.com: The Digital Library

جومات له ځو غیږ کې قرآن ګرځوو
خو پټ په زړونو کې بتان ګرځوو

بیا مو د کوم فرعون ننبه نه کړي
سرونه پټ چې له اسمان ګرځوو

کلونه وشول په دې تمه بانديې
زړه کې د لوی وطن ارمان ګرځوو


زاهده ګوندې وې چې رنګ تري واخلو
ښکلي ترخنګ لکه ګلان ګرځوو



(c) ketabton.com: The Digital Library

سعيده ته ک به دا ضرور راکوي

چې په لستوني کې ماران ګرځوو




(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان د چا کله ټکور ورکوي
ژور زخمونه به لا نور ورکوي

د ګاونډي چې دلته وس ورسي
نو د يو بل درمند ته اور ورکوي

سعيد چې ښکلې په غزل کې راوړي
رقيب ته دا خبره زور ورکوي

بلا رنګونه يې په زړه را اوري
سعيد چې ستا رياضت ته زور ورکوي



(c) ketabton.com: The Digital Library


مست خواږه ګوري جانان
چې له زړه ګوري جانان

وا وا سل زره رنګونه
خومره ښه ګوري جانان

ماله ځانه کړي قربان
چې کاږه ګوري جانان

بیا تندی او کاڼی ثه
چې ونه ګوري جانان

سعید بیا کړي ځان ورتېر
ګوندي وه ګوري جانان




(c) ketabton.com: The Digital Library

امن چرته بې باوره ژوندون
زموږ خوارانو در بدره ژوندون

وجنګ نفرت ته د پای ټکی کېږدو
راځئ شروع کړو بیا له سره ژوندون

وخته تاثه کړې نیکي راسره
له دردو ډک وي زموږ اکثره ژوندون

په دې مالت کې ثه عجیبه خلک
تېرواى نه شي بې سنګره ژوندون



(c) ketabton.com: The Digital Library


لکه زاهد وځان ته ناست يمه خلوت لرمه
ډېره موده يې په ښکلا کې رياضت لرمه

دا ښاري پېغلې مې پر زړه باندې چک نه لګوي
زه کليوال ژڼی ساده غوندې فطرت لرمه

ګناهګار يم خو دومره نه يم چې له لارې وځم
د شپې ناوخته د غزلو امامت لرمه

ستا په کتو را باندې سل زره رنګونه اوري
جار دې له سترګو څه ښاغلی محبت لرمه

په دغه وخت کې چې سعيد له بلا امن لرم
دعا د مورجاني بلا بلا رحمت لرمه



(c) ketabton.com: The Digital Library

سیند ته یې را کوزې کړم او بو سره شپیلکی کړمه
ستوري په اسمان وي چې رمه له شپاله هی کړمه

اې ښکلې خپه نه شې تعبیر یې ستا په زړه کوم
خوب کې دې ویل راته چې در به زه ځونډی کړمه

ته که زمونږ کور ته میلمنه کله را پېښه شوې
تا ته به ډالۍ زمونږ د توري مېږې وری کړمه

ستا د بنګړو شور سره سیالۍ باندې راغلی یم
زه چې د غزلو په لفظو باندې شرنګی کړمه

دې سرکښه وخت کې به سعید ګوره چې څه کول
موږې منم خدای ورپسې تا هم څه سړی کړمه



نه اولني شته نه همغسې وجدان پاتې دی
نن سبا هر سړی په ګټه د خپل ځان پاتې دی

څه سادګان یو په تاریخ چې د نیکونو ویاړو
په موږ کې کوم خوی د احمد او میرویس خان پاتې دی

په خوله یې وایو ، خو عمل دلته پرې چا کړی دی
هسې په پاڼو کې خاوند ستا قرآن پاتې دی

له نفرتون بې لا غرقه وای له وخته نړۍ
په څو سړیو کې شاید چې سپین ایمان پاتې دی

په دې مالت کې خو په خدای چې زندګي ګرانه ده
سعید چې پاتې دی په تمه د جانان پاتې دی





(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا سره چې نه یمه
زه به نو بیا ثه یمه

ستا په ږغ بس هر سهار
ګل غونډي تازه یمه

ته وا خوله به نه کړي را
دې کې زړه نا زړه یمه

تا ته خو سعید ګرانې
خاورې یم ایره یمه



(c) ketabton.com: The Digital Library


چا چې ولس سره په غم کې خواخوږي کړې ده
زموږ په زړونو یې بې تاجه پاچاهي کړې ده

چې د ځان ګټې قربان د خپل ولس له ګټو
بې شکه دې سړي په حقه سرداري کړې ده

رقیب مالت کې څه وړه خبره نه وه دغه
د زړه په زور مې د هغې جنۍ یاري کړې ده

د ورورو مرګ ته یې کارتوس دې بې پیسو راکړي
د نړۍ خلکو چې له موږ سره ځواني کړې ده

سعیده چرته چې په مینه وي د کفر فتوا
داسې ماحول کې موږ خوارانو زندګي کړې ده



(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلي ګلالي کاته
ستا سپرلي سپرلي کاته

څه عجيب سرور لري
ستورو ته مې وړي کاته

زړه اخلي او توان اخلي
ستا جادوګري کاته

خوی د پسرلي لري
ستا موسکي موسکي کاته



(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونـــــدي زرګـــــر نــــه لــــږ خـــواري غـــواړي
دا وطــــن يــــو ثــــو د كــــار ســــړي غــــواړي

ښـــار مـــو پـــانې پـــانې لكـــه ســـور ګـــلاب
خدايـــه نـــور د ســـولې پســـرلي غـــواړي

***

كلـــه كلـــه غـــم ســـره دوكـــه وكـــړم
لاړشـــمه و ډك جـــام تـــه تكيـــه وكـــړم

شـــېخه دغـــه دور بـــې ايمانـــه دى
ثـــه بـــاور بـــه ســـتا پـــه مســـله وكـــړم



(c) ketabton.com: The Digital Library

له قرنونو له پېريو
د ژوندون دغه اواز دی

ورورولي ، امن او مينه
د انسان د تخليق راز دی

***

دا چې پر زړونو تاثيري غوندې دی
د ښکلي رڼغ جادوګري غوندې دی

لاس ته راوړل به يې وختونه نيسي
زړګى د ښکلى د ماهي غوندې دی


***



(c) ketabton.com: The Digital Library

تخنیک پر مخ لاړو بدل شو انسان
خو حقیقت کې لا تمبل شو انسان

د ژوند د عشق سندره کله اوري
اخته په جنګ و په جدل شو انسان



(c) ketabton.com: The Digital Library


موږ که هرڅو په لاره سم په بسم الله روان یو
ستا په نظر شپخه بیا هم پر چپه خوا روان یو

بې ننګه نه یو ، خو له دې تېرو جګړو مو زده کړل
اوس د وطن په نوم جګړه کې هم تر شا روان یو

***

لکه ګلان دانه ،دانه د چول په دښت ولاړ دي
زما ملګري پریشانیو کې د وخت ولاړ دي

موږه به خاورې کړو د ښکلو پر مړوند خوبونه
رقیبان نه یو چې تیار پر دغه بخت ولاړ یو



(c) ketabton.com: The Digital Library

***

څه بې رنګه څه داغلې زندګي ده
بې له تا چې مې اې ښکلې زندګي ده

منم ښار کې د پی مخو هستي ۀ پره
خو په کلي کې ترې ښکلې زندګي ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه ککړې په بارودو د وژمو خبرې
زما د وطن د ګلدرو د پسرلو خبرې

سپوږۍ مه د وکړه پردۍ، سیمه پردۍ وطن دی
لېر اله وکړه د وطن د ګودرو خبرې

***

دلوي سړي نه ماشومتوب وشي
مینه کې د اسې لېونتوب وشي

په کومه شپه چې وي وعده د اشنا
له بده بخته مانه خوب وشي




(c) ketabton.com: The Digital Library

نن يې خوشبويي زلفو ته ورته ده
ښايې له هوا سره روانه ده
هسې نه رقيب ته مخ ورواړوي
بيا مې زړه د رزا سره روانه ده

***

چې رقيب نن له اشنا سره پاتېږي
بله شمعه له هوا سره پاتېږي
په بخښنې يوه هيله مې كوله
پښې مې ځي خو زړه له تا سره پاتېږي



(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه بدل شولې جانان مې نه شوې
د پرهر ځړیکه شوې درمان مې نه شوې

راشه د وخت دا امتحان وګوره
ته رانه لاړې خو ارمان مې نه شوې

***

یار ستار دا دوه یاران
ما سره جوړه یاران

شېخه وعظ ځانته کړه
زه پوی شوم هغه یاران




(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زندګي به زندګي وشمېرو
چې ماښام پوره وي خپل سړي وشمېرو

ګلان، فصلونه او باران چې راکړي
سپرلي به هله مور سپرلي وشمېرو

چې بې بمباره تر خپل کوره راشي
دغه واده به بیا ښادي وشمېرو


ښکلی چې لاړ شي له محفله څخه
ملګري ژر ژر خپل زړګي وشمېرو



(c) ketabton.com: The Digital Library

سعيده وروسته له چاودنې ثخه

تش يې خولۍ، ثپلۍ، کالي وشمېرو




(c) ketabton.com: The Digital Library

حالات مغل دي دلته هرڅه په پردو کې ښکاري
دا چې خاپونه د رنګونو په څهرو کې ښکاري

د قهريدلي اسمان دغه لوی احسان و پر موږ
زما د ګل وطن تصوير چې په لمبو کې ښکاري


څه کيفيت دی مخامخ ورته کتلی نشو
د بلاګانو انځورونه په اينو کې ښکاري

دا سې څوک هم شته چې بلا غم يې پر کور مېلمه دی
دا سې څوک هم شته چې سازونو او نغمو کې ښکاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

سعیده تا هم له دې خپل ماحوله رانګ اخیستی
څه عجیبه ده ژوند او مرګ دې په شعرو کې ښکاري




(c) ketabton.com: The Digital Library

زړونه مو له غمه ډک سکون نشته
خير د حالاتو پر لمن نشته

غواړې چې په ښکلو کې ليلا مګر
وګورئ په موږ کې هم مجنون نشته

ډېر خلک هغه غونډې خصلت لري
څوک وايي چې دلته کې قارون نشته




(c) ketabton.com: The Digital Library

رقیب، جانان سره جوړه روان دي
بهار، خزان سره جوړه روان دي

ویني د زړه خورو حادثو کې د ژوند
وخت او ارمان سره جوړه روان دي

خدایه دا ستا قدرت بې ساتي راله
وطن، توپان سره جوړه روان دي

بیا به د چا پر زړه قیامت پرېباسي
شوندې، پېزوان سره جوړه روان دي



(c) ketabton.com: The Digital Library

یاران یا سترګې یا خبرې دي ټول
سعید، جانان سره جوړه روان دي




(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به وا ځوان د چا په مينه کې په دار ځړېږي
ډېره موده کېږي، تېرانو کې سيتار ځړېږي

بيا د درنې چاودنې ږغ له سپين جوماته راغی
خدايه قران دې پانې پانې په مينار ځړېږي

د غره سړی دی په هغه کلتور هغسې پاتې
ثادر په ثوکه په کثوړه کې نسوار ځړېږي

منئ چې زموږه د نيتونو د ګنا له وجې
د وحشتونو په ځنځير مو دغه ښار ځړېږي



(c) ketabton.com: The Digital Library

دا نو قسمت دی د سعید په ګریوان تړمې اوښکې
خو د هغې په ګریوان روڼ د پاولو هار ځړېږي




(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به په څه خبره شر کوي د کلي خلک
واړه لګیا دي سوچ اکثر کوي د کلي خلک

خوشحال ویلي خاوره زمونږ، اختیار د بل په لاس کې
یا به مغلو ته اشر کوي د کلي خلک


هغه وختونه اوس په خدای که هم په خوب لیده شي
په اتڼونو چې اختر کوي د کلي خلک

د ښار په څېر نه دي په غم به دې شریک بولي ځان
په خدای دا کار به زړور کوي د کلي خلک



(c) ketabton.com: The Digital Library

لا وچکـــالي ده بـــاران نشـــته چينـــې وچ حلقونـــه
ســـعيده خـــاورې بـــه کښـــت کـــر کـــوي د کلـــي خلـــګ




(c) ketabton.com: The Digital Library

ستوري پرېشانه لږ خو وګوره
دې خواته جانانه لږ خو وګوره

مشره وایه ته چرته او قام چرته
سرکړه تر ګریوانه لږ خو وګوره

خدایه سبا چرته په مزل مزل
شپه ده یو ستومانه لږ خو وګوره

سورغر، بې چینو دی، بې ګلانو دی
دې خواته بارانه لږ خو وګوره



(c) ketabton.com: The Digital Library

ثه اثره د ښکلې په دې ږغ کې وه
اې سعيده ځوانه لږ خو وګوره




(c) ketabton.com: The Digital Library

چا چې لږ ډېر په کې الفت کړی دی
هغو ژوندون په صداقت کړی دی

چې یارانه ساتې بې تمې دواړه
هغوی ریښتینی محبت کړی دی

وجدان کې هر سړی ظالم دی دلته
ورانی هر چا تر خپل همت کړی دی

سعیده څوک دي د وطن کیسه کې
هر چا د خپل سر حفاظت کړی دی




(c) ketabton.com: The Digital Library

زما له کتو نه پرېشانه ښکاري
دا ښکلې ولې بدګومانه ښکاري

چې پښتانه ساتي له سولې لرې
دغه دنیا هم بې ایمانه ښکاري

خیر، په ښار دی څه قیامت پرېوتی
چې خاموشي ده، فضا ورانه ښکاري

اینې ته لږ خو مخامخ وګوره
شونډې دې ګل غوندې جانانه ښکاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه شبنم د ګل له پاڼې سعید
بیا پر اغزیو او ویزانه ښکاري




(c) ketabton.com: The Digital Library

نه درد بېړي، نه ژړېږي بې نمک دي
دلته زړونه اوس له کانو څخه کلک دي

شونډې راکړه بې له دې هم نازولې
زاهدان د زمانې راته په شک دي


یو له بله دي نیمګړي دې وطن کې
پښتانه دي، تاجکان دي، که ازبک دي

ښکلي زموږ د زړه په وینو باندې پایي
چې غومبري یې بې لمره هم چمک دي



(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـــــوږ ژونــــــد بــــــه يـــــې ســــــعيده لــــــوی عبــــــرت وي
پــــــه ارمــــــان چـــــې څـــــوک د تـــــــوري او ټوپـــــــک دي




(c) ketabton.com: The Digital Library

په نه لیدو کې ترې رنګین غوندې الهام اخلمه
زه یې د حسن هم زره زره پیغام اخلمه

دا جبر نه دی له عقدې سره ټکر کې یمه
لار کې رقیب نه هم په ورین تندي سلام اخلمه


دلته به بم، دلته کمین، دلته قاتل لاسونه
په خپل وطن کې هم په وېره وېره ګام اخلمه

ساقي په دې کې بغاوت ثه دی د وخت تقاضا
زه د وطن او خپلو خلکو په نوم جام اخلمه



(c) ketabton.com: The Digital Library

سعید دا ستا په څېر له کینه څخه ډک مه ګڼه
نوم دې هغسې لا په خدای په احترام اخلمه




(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د کوم درد به مو دوا شي کنه
هغه راځي لېږ به رڼا شي کنه

هغه وعدې لکه بنګړي ماتوي
ستا خو یقین دی ګوره راشي کنه

زما لپاره په بلې درېدل
بیا بې له زړه سره سلا شي کنه

ازار يې ډېر د پښتانه اخیستی
په غم اخته به دا دنیا شي کنه




(c) ketabton.com: The Digital Library

و غم ته لته له خماره سره
ستورو ته ناست یم له سیتاره سره

دا نو قسمت دی د ګلونو پر ځای
راځي جنګونه له بهاره سره

که غواړې پاتې شي ژوندی تر ډېره
بیا نو یاري وکړه له داره سره

زما خاموشه زړګی شور پیدا کړي
ستا د بنګړو له شرنګهار سره



(c) ketabton.com: The Digital Library

یارانو ولې پسپسی کولو
سعید چې ناست وو له خپل یاره سره




(c) ketabton.com: The Digital Library

له بې امنۍ ښکاري چې ټوله د نفرت ملګري
په دې مالت کې شته ډېر کم د محبت ملګري

په هغه ورځ مې لاړې تو کړلې په خپل ګریوان کې
چې خبر کړی و، رقیب زما په نیت ملګري


خو د به سرونه په کې بایلي بې ضمیره ولس
پښتانه نه شول د خوشحال د طریقت ملګري

تورو مات نه کړل خو سیکې دا څه بلا را وکړه
څنګه یې بېل، څنګه یې پاش کړو د وحدت ملګري



(c) ketabton.com: The Digital Library

مورکۍ دې مړه شوه درنه وېره ده سعيده په کار
اخته دې نه کړې په بې ځايه شرارت ملګري




(c) ketabton.com: The Digital Library

لیوني نه یو چې په ژوند باندې باور وکوو
ساقي را وړاندې شه جامونه سر پر سر وکوو

مینو شرنګ کې د جامونو دغه عذر ضرور
د پاتا یاد به د ګودر او مازیګر وکوو

پلار یې حالاتو دی په خومره ناځوانی وژلی
راځئ چې قدر د یتیم بچي نهر وکوو

دا سړتیوب کاشکي زموږه په شعور کې راشي
په نه خبره ولې وروره سره شر وکوو
دعا د خېر، حالات قابو نه دي اورنګ زمان کې



(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـعیده نـــور بایـــد لـــه هرڅـــه نـــه خطـــر وکـــوو



(c) ketabton.com: The Digital Library

مینا


نن په ښار کې یوه ښکلې
شوه زما له څنګه تېره
د خیال لاس مې پسې وغځېد ناڅاپه
ما وې کوم سخي ساقی دی
مینا ګرځوي په لاس کې



(c) ketabton.com: The Digital Library

نن


اې، دا ته څه کړې او څه وایې؟
چې له ځان سره بوڼېږې
لکه مچ لاسونه مروړې افسوس کاندې
خاطرو ته د ماضي دې پنا وړې
انځورونه دې پر ذهن بلا ګرځي
د سرو شونډو ،شوخو مچو ، خندا ګانو
دا دکوم زمان په لړو کې پنا یې
راشه کښېنه لېونیه !
بیا به دا وختونه غواړې
هلته وګوره لږ وړاندې
هغه پېغله در ته څنګه په ناز خاندي



(c) ketabton.com: The Digital Library

## فطرت


ورځ شوه تېره
د مرغانو او سیندونو په سندرو
سپوږمۍ هم لیښې غوړلې
په تیارو کې په لامبو ده
ستوري مینځي په چینو کې خپل مخونه
مګر زه کرخت کرخت یم لا تراوسه
لکه واوره د لو تېرې و بغل ته
ته رانغلې زه دې جز د فطرت نه کړم



(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاست


زندان، مرګ، بې له دلیله
چور چپاو د چا په خوښه
ځان ښودنه له حد زیاته
ځان او کور رڼه بنګله کې
ولس ټول د ویر پر کنده
که دا وي، د سیاست برخه
نو، ما لوستی سیاست نه دی!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان


دوی نارې وهي په زوره
له هیبته ډک ږغونه
لمر ولاړ زموږ پر سر دی
بیا مې هم پوښتي او وایي
چې ته څوک یې له کوم ځایه
زه حیران یم ځواب نه راځي پر شونډو
خو په ذهن کې بلا سوالو ته مخ یم
دوی مې وینې چې ومخته یې تېرېږم
زه، انسان یمه، انسان یمه، انسان!!!!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library

## تذکره


هو زما تذکره دا ده، ستا په وړاندې
کته مته کاپي ستا د تذکرې ده
په کې لیکې کرښې ورته
دوه لاسونه او دوه پښې
دا وجود او دغه نطق
نه پوهېږم چې ته ولې
رانه بیا تابیعت پوښتې
خو که دا کفایت نه کړي؟
نو ما لار غلطه کړې، بخښنه غواړم !!!



(c) ketabton.com: The Digital Library


راز

که فتوا مو کړئ عاجله لږ به ښه وي
ژر مې ځوړند کړئ د ښار په څلور لارې
ګناګار او که سپیڅلې تر ایینه یم
دا خبرې به د وخت تاریخ ته پرېږدو
مګر قام ته یو پیغام هم ضروري دی
وخت تېرېږي انتظار نور په کار نه دی
غواړم دغه پیغام ژر خپور شي په ښار کې
چې له داره سره مینه
د وطن د سوکالۍ، ازدای راز دی




(c) ketabton.com: The Digital Library

د حسینو د ښایست جادوګري ده
چې موښکلې ړنګه ښنګه زندګي ده
دا چې یو ځلې سهار بیا مازیګر کړې
ستا پر زړه باندې خو اوس لا بې لوظي ده
اوس ښادي د هغو خلکو په قسمت ده
چې لوټلې یې د ګلونه ځواني ده
نه مې زړه ورباندې سود شو نه غزله
زه بې څه کړم چې د ښکلو ارزاني ده
تل خواله دا ستا دحسن په یادو کړي
د غزلو او سعید چې اشنا یې ده



(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د سروشونډو بنګاوه دې راکړه
ظالمې څه غرقه نشه دې راکړه
بلا زړګی لرې بلا جانانه
وعده دې هېره شوه وعده دې راکړه
اخير د دومره مينې دومره قېمت
خولګۍ دې راکړه خو يوه دې راکړه
نن چې موسکۍ شوې نن مې ځان وليدو
غوږ مې خيالونه کړو ، ايينه دې راکړه
سعيد واپس زابلي فطرت له ځمه
کابله وران مه شې دوکه دې راکړه



(c) ketabton.com: The Digital Library


## وعده

مرغۍ پاس ځاله کې ناسته
زه د توت ډډې ته غلی
یو مرغه له لرې لرې په نغمو ده
طوافونه یې د توت پر سر ادا کړل
مرغۍ هم له ځالې ووته و ښاخ ته
پر شنه پاڼه یې مشوکه کړه را تېره
د ماحول لمن یې ډکه په نغمو کړه
په شنو پاڼو کې یې شروع دی پټ پټانې
مازیګر په الوداع دی دوی مستې کړې
پرښاخونو په ټوپونو په نڅا دي
خو انسان لا د انسان وعدې ته ناست دی




(c) ketabton.com: The Digital Library

تا پسې ورک، له خپل ارمان سره یم
زه چا لیدلی له خپل ځان سره یم
دا فرښته، که پښتنه پېغله ده
مخامخ بیا نن له ګمان سره یم
له هغې وروسته رقیب بل شانې دی
چې یې لیدلی له جانان سره یم
د شنو خالونو لونګین مېرمنه
ته به وا پورته له اسمان سره یم
هغه چې هر چرته، باور لرمه
سعیده زه یې هم له ځان سره یم




(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږې وږمې چې د سینګار لرې ته
ضرور ګلابه سره لار لرې ته
نن یې په ترشه تندۀ دا وویل
اخر له ما سره څه کار لرې ته
هغه زما په زړګي لوبې کوي
ملګري بیا هم وایي یار لرې ته
سعیده پام کوه مورکۍ دې مړه ده
په دې دنیا کې کوم غمخوار لرې ته




(c) ketabton.com: The Digital Library

دا تجلی له ذات د ګله راته ښکاري
د ورېمو د خم له تله راته ښکاري
یم کمرنګه ته وا نور دې ټوله وړی
ستوري ټوله اوس بې ځله راته ښکاري
ستا د زلفو د خوشبو حس په کې نشته
هوا هم اوس لږ بدله راته ښکاري
ته چې نه راځې نو مه راځه توکل دی
دا قسمت هم له ازله راته ښکاري
زه چې پټې کړمه سترګې څه تاثیر دی
ستا د حسن ډیوه بله راته ښکاري
چې سعید یې ستا په شونډو ګناګار کړ
دا شیطان ستا له چارګله راته ښکاري



(c) ketabton.com: The Digital Library

سوې لوې توتکۍ درپسې درومي
د بې وسه زړو سلګۍ درپسې درومې
په قبله چې ته روانه شوې زما پام شو
ستوري تت شولو سپوږمۍ درپسې درومي
که ته ګل نه یې، نو بیا وایه چې څه یې؟
چې وږمې ځولۍ ځولۍ درپسې درومي ! !
ګله پامه کوه خزان دې چرته نه کړي
رقیبان لکه ږلۍ درپسې درومي
د سعید چې د غزل تنده سیوا شي
بیا تر قافه ښاپیرۍ درپسې درومي




(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بې مینې یې جانان درسره نشته
ویره دا ده چې ایمان درسره نشته
چې بایللی دې زړګی تراوسه نه دی
نو ډاډه ګرځه تاوان درسره نشته
چې به یې زړونه کړل له ځان سره په مخه
ښکلې اوس هغه توپان درسره نشته
چې په خپله خاوره خپل ورور ته بلا یې
نو هیڅ فکر د افغان درسره نشته
ها د ګړدې سپوږمۍ عمر کې سعیده
هاغه نخښه د پېزوان درسره نشته



(c) ketabton.com: The Digital Library

مازیګر هوا چې ګل غوندي خوږه شوه
ستا د زلفو خوشبويي په کې خوره شوه
چې موسکۍ شوې جنتونه په ګډا شوو
چې غوسه شوې قیامتونه شو لمبه شوه
رنګه بنګه چې په غېږه کې راتوی شوې
دا شپېه مو د شرابو پیمانه شوه
چې دې یو نظر را واړولې سترګې
دا وږمه وه له ګلابه را ستنه شوه
ستا د ښکلو سترګو څومره بد غبرګون و
له سعیده سره ورانه زمانه شوه



بې له تا مې زړه تصوير د ژيړ خزان دی
ښکلې راشه، بې ګلابه دا ګلدان دی
د ايينې غوندې وربښمينې ځلا پاشي
د چا روح مې سم له روح سره روان دی
چې موسم يې د جنګونو پيلامه وي
دې وطن کې پسرلی هم بې ايمان دی
بس د چا له سترګو دغه چاره کېږي
دا سعيد چې له رقيبه سره وران دی







(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د مينې او ارمان خبرې
ښکلې ته ښکارې د تاوان خبرې
مچۍ او شات مې شي پر ذهين تصوير
کوي رقيب چې د جانان خبرې
سړيتوب دادی چې ته بل احساس کړې
کولی هرڅوک شي د ځان خبرې
په ښار کې اوس هم کليوال دی سعيد
کوي د خال يا د پېزوان خبرې




امکان یې نه وینم چې زه دې دا کیسه ټوله کړم
سترګې خو خیر، له زړه څنګه ستا جلوه ټوله کړم
لاس مې راتاو له نرۍ ملا، ژبه وکار ته پاتې
په دې مجبوروم له بار خو نه دې خوله ټوله کړم
هغه ده راغله د سرکو شونډو ښایسته مېرمنه
نوره به لپه د دعا خوره وره ټوله کړم
زړګی مې چوي له تیارو سره مې نه لګیږي
پرېږده له مخه دې د زلفو دا څپه ټوله کړم
بېرتې واپس کړو ډک جامونه له سعیده څخه
وایي ساقي له تا به نوره دا لمبه ټوله کړم




(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې ډک دی له خوبو نه مرور يم
نور له ټولو اييېنو نه مرور يم
څه قسمت دی څه مې سود د زندګی دی
اوس له کرښو د لاسو نه مرور يم
چې د پېغلو د پيکي سيوري پرې کاخت شول
نور د کلي له چينو نه مرور يم
ته چې لاړې له سعيده سپوږمۍ مخيه
يم کمرنګه له رنګو نه مرور يم




(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوه ښکلي اهتمام په کار دی
د زړه جومات ته مې امام په کار دی
اې د هغې د نيا د حورو شوقي
پښتون ته دلته يو مقام په کار دی
چې د غزلو سور او لی پرې جوړ کړي
شاعر ته ستا د شونډو جام په کار دی
اې زړه وره غېږ دې نه غواړمه
سعيد ته تش دا ستا سلام په کار دی




(c) ketabton.com: The Digital Library

رقیب به خامخا په څنګ کې وي مغرور ورسره
جانان چې ګل دی نو اغزی به وي ضرور ورسره
هرڅه که ښکلي ورته ښکاري، فلسفه یې دا ده
وي په خیالو کې ستا د سترګو تصور ورسره
هغه چې مخته ځي نو شاته درې قدمه راځي
ملامت نه دی په سیالۍ کې دی تر بور ورسره
غریب ماحول کې، غریبان یې څنګه ونه لوټي
خبر له ښکلو د سروکو شونډو دي دور ورسره
سعیده دروغ وایي دا خلک دي تر ګټو پابند
دلته له چا سره دی فکر د منصور ورسره




(c) ketabton.com: The Digital Library

توره بلا وه برکت یې نه و
رقیب محفل کې و عزت یې نه و
څه عجیبه وه، څه بلا ښایست و
د کلي پېغله وه، زینت یې نه و
پخوا ما دیاتو ته سجده نه کېده
د کلي خان و دولت یې نه و
په دې مالت کې دا سې کلی نه و
چې خرافات نه و زیارت یې نه و
سعیده ستا په اړه ښکلې ویل
خړ کلیوال و جرئت یې نه و



(c) ketabton.com: The Digital Library

وخته زه بلا کوم ژوندی یمه
ستا په پرهرونو کې موسکی یمه
څنګه مې په لېڅو کې را ګېره یې
ته به وا د سرو زرو بنګړی یمه
دومره فتواګانو کې او دا ژوندون
دا منم رښتیا چې لېونی یمه
پېغلې چې د ښار را پسې نوک وهي
بوی مې د لونګ ځي، زابلی یمه
ډېرو ښایستو ته یم لوګی سعید
زه که په رنګ تک تور سپېلنی یمه




(c) ketabton.com: The Digital Library

د شهیدو ارمانونو میسحا دی
یو سپرلی له لرې لرې په ګډا دی
د ودان افغانستان ترانې بولي
یار د وخت په سرو زخمو کې په خندا دی
تا د کلي د چینو اوبه څښلې؟
هر یو څاڅکی یې مستان لکه صهبا دی
د حالاتو د میچنې پروا نه کړم
ویره دا ده چې خپل ورور راته بلا دی
زموږ هر مشر له لرې لعل پر ټنډه
له نږدې نه د مرګونو اژدها دی
د وخت لوبې ته حیران یمه سعیده
څوک مې ورور، څوک مې دښمن، څوک مې اشنا دی



(c) ketabton.com: The Digital Library

د هر مشر مې پردیو ته سر خم دی
زمانې ده ګوته کړې لوی سیتم دی
چې یې حق د پښتنو ته سترګې پټې
خدای دې خوار کړي، که عرب دی که عجم دی
له کلو وروسته مې تنده کړه پرې ماته
دا چینه زما د کلي که زمزم دی
سوله غواړي، جام د وینو یې هم نوش دی
عجیبه ده، دا بیا څه ډول ادم دی
ستا فتوا و ته یې باک نشته زاهده
دا سعید د ملنګانو په دم، دم دی



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**